# د څیړونکي کتاب

## د کتاب پېژندنه

د څیړونکي کتاب د مقدس کتاب د شعري کتابونو لکه د ایوب کتاب، د زبورونو کتاب، د سلیمان د متلونو کتاب او د غوره غزل کتاب په شان یو شعري کتاب دی چې له دې سره ټول پنځه کتابونه کیږي. د کتاب په لویه برخه کې متکلم یو حکیم دی چې ځوانو زده کوونکو ته نصیحت کوي. د ځینو روایتونو له مخې، دا کتاب د یهودیانو لوی پاچا سلیمان پورې تړل شوی دی، خو د هغه نوم په متن کې نه ښکاري. د پوهانو په عقیده دا کتاب د مسیح د پیدایښت نه شاوخوا درې سوه کاله وړاندې راټول شوی دی. په پخوانی اسراییلي ټولنه کې د رواجونو پر بنیاد حکمت (د خدای پېژندنه او له هغه څخه وېره) ډېر مهم ارزښت درلود، او مور او پلار د ښوونکو په توګه د ماشومانو تعلیم یې په غاړه ؤ. دغه تعلیم د اسراییلو له هغه ځانګړي تاریخ سره چې په تورات کې راغلی دی، کوم تړاو نه درلود او زیاتره ورځني ژوند ته بېل شوی ؤ.

د کتاب لیکونکی د ادبي بېلابېلو جوړښتونو څخه کار اخلي لکه نثر، شعر، متل او لنډې کیسې. ځینې مهمې اصطلاحګانې په تکراري توګه راغلې دي، لکه: لوګی او پوکی، په باد پسې منډې وهل، د اسمان لاندې، زیار او زحمت او داسې نور. همدا شان ډېر متضاد الفاظ هم په کتاب کې کارول شوي دي، لکه: حکمت او حماقت، صداقت او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شرارت او داسې نور. په لومړني او اخرني فصلونو کې د لوګی او پوکی په اصطلاح خاص ټینګار شوی دی.

د خپرونکي کتاب یو فلسفي کتاب دی چې اصلي موضوع يې د ځمکې په مخ د هغه څه لټون دی چې په دې ژوند کې ښه وي. د قانون استثناګانو ته په کې ډېره اشاره شوې ده (د مثال په توګه، کله کله نېکان هغه څه تر لاسه کوي چې بدکاران د هغه مستحق دي). د لیکونکي په باور د دنیاوي ګټو ساتل زیاتره د باد پسې منډې وهلو په شان دي، چې دا ګټې د هماغه باد په څېر تېرېدونکي او له لاسه تلونکي دي. د کتاب په پای کې لیکونکی دې حقیقت ته رسيږي چې ژوند د سیوري په څېر زر تېريږي. نو مونږ باید له هغو نعمتونو نه خوند واخلو چې خدای مونږ ته په موقته توګه راکړي دي. زمونږ په ژوند کې کاروبار، شتمني، حکمت او خوند یوازې تر هغه حده پورې ارزښت لري چې مونږ خپل خالق په یاد ولرو.

هغه وخت راتلونکی دی چې «خدای به د هر هغه کار په اړه قضاوت وکړي چې انسان يې تر سره کوي چې د زړه پټ رازونه هم په کې شامل دي، که هغه ښه وي او که بد» (۱۲:۱۴). سره له دې چې ژوند په شک کې دی، خو مرګ او قضاوت حتمي دي، نو پوښتنه دا ده چې مونږ باید په څه شي پسې منډې ووهو؟

د موضوعګانو لست:

د کتاب سریزه: ۱: ۱ – ۱۱

د خپرونکي پلټنه: ۱: ۱۲ – ۶: ۹

نتيجې او موندنې: ۶: ۱۰ – ۱۱: ۶

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوانانو ته نصيحت: ۱۱: ۷ – ۱۲: ۸
وروستی خبرې: ۱۲: ۹ – ۱۴

## د کتاب سريزه

۱
۱ دا د هغه خپرونکي خبرې دي چې د داود زوی دی او په اورشليم کې پاچا ؤ.

## هرڅه لوګی او پوکی دی

۲ دا خپرونکی وايي:

«لوګی او پوکی!

لوګی او پوکی!

نو دا هرڅه لوګي او پوکي دي!»

۳ انسان چې د اسمان لاندې زيار او زحمت وباسي

نو بيا ګټه يې څه ده؟

۴ نسلونه به ځي او نور نسلونه به د هغوی په ځای راځي

خو ځمکه به تر ډېره وخته پاتې وي

۵ لمر راخېژي او بېرته پرېوځي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بېرته د يو اتل په شان ستومانه هغه ځای ته ځي

چې بيا له هغه ځايه راوخېژي

۶ باد د جنوب خواته لګيږي

بيا تاويږي، د شمال په لور ځي

او همداسې تاويږي راتاويږي

بيا بېرته په خپله لاره راسميږي

۷ ټول سيندونه د بحيرې په لور بهيږي

خو بحيره هېڅکله نه ډکيږي

له هغه ځايه چې د سيند اوبه بهيږي

بيا بېرته همدا اوبه هلته روانيږي

۸ ټول شيان دي ستومانه او بې خونده

چې بيان يې له وسه دی بهر

نه سترګې مړې شوې له کتلو

نه غوږونه دي ډک شوي له اورېدلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ هرڅه چې اوس موجود دي

لا به موجود وي

او څه چې وو پېښ شوي په پخوانيو زمانو کې

بيا به تکرار شي

نو هېڅ کوم نوی شی به نه وي د اسمان لاندې

١٠ داسې څه به وي چې څوک وويلی شي:

«وګوره، دا شی نوی نه دی؟»

خو هغه هم له پخوا نه موجود ؤ

کلونه مخکې له مونږ نه

١١ تېر نسلونه د هېچا په ياد نه دي

او حتی هغه راتلونکي نسلونه چې لا نه دي پيدا شوي

هغوی به هم همداسې هېر شي

له هغو خلکو نه چې راځي هغوی نه وروسته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ژوند د هلو ځلو په اړه څېړنې

۱۲ زه خپړونکی په اورشلیم کې د اسراییلو پاچا وم. ۱۳ ما
پرېکړه وکړه چې په ټوله نړۍ کې چې هرڅه تر سره کېږي ولټوم او
هغه په حکمت سره وڅېړم. نو بیا پوه شوم چې خدای د سختو
کارونو او تکلیفونو دروند بار د انسانانو په اوږو ایښی دی چې پرې
بوخت وي. ۱۴ ما دا هرڅه چې د اسمان لاندې تر سره کېږي،
لیدلي دي. نو وګوره چې دا هرڅه لوګي او پوکي او په باد پسې منډې
وهل دي.

۱۵ کوږ شی هېڅکله نه شي سمېدلی

او ناموجود شی نه شي شمارېدلی

۱۶ له ځان سره مې وویل: «وګوره، زه دومره پوه او هوښیار سړی
شوی یم چې زما څخه مخکې په اورشلیم کې هېڅوک داسې هوښیار
نه ؤ تېر شوی.» ۱۷ نو پرېکړه مې وکړه چې حکمت وپېژنم او تر
څنګ یې جهالت او حماقت هم وپېژنم، خو زه دې نتیجې ته ورسېدم
چې دا کار هم په باد پسې منډې وهل دي.

۱۸ څومره چې د چا حکمت لوړېږي

نو هغومره یې کړاوونه هم ډېرېږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه څوک چې خپله پوهه لوړوي

نو خپل دردونه ډېروي

## د عیش او عشرت او د شتمنۍ ګټه

**۲** ۱ له ځان سره مې وویل: «راځه چې عیش او عشرت وازمایم ترڅو له ژوند نه خوند واخلم.» خو چې ومې لیدل دا حالت هم لوګی او پوکی ؤ. ۲ نو ما فکر وکړ چې

خندا او خوشحالي جهالت دی

او د عیش او عشرت ګټه څه ده؟

۳ په داسې حال کې چې حکمت لا هم زما د زړه لارښوونه کوله، نو ومې غوښتل دا وخېړم چې څنګه ځان په شرابو خوشحاله او په حماقت کې ډوب کړم. غوښتل مې وګورم چې د انسانانو دپاره څه شی ښه دی چې د خپل ژوند په لنډه موده کې یې تر سره کړي.

۴ ما د خپل ځان دپاره لوی لوی کارونه وکړل. ما کورونه ودان کړل او د انګورو تاکونه مې کښېنول. ۵ د ځان دپاره مې باغونه او پارکونه جوړ کړل او په هغو کې مې ډول ډول د مېوو ونې کښېنولې. ۶ ما د راشنو شوو ونو د خړوبولو دپاره د اوبو ډنډونه جوړ کړل. ۷ ما غلامان او وینځې واخیستلې او په کور کې مې نور غلامان او وینځې هم زیږېدلې وې. زه د ډېرو رمو او پادو خاوند شوم. زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځاروي دومره ډېر وو چې زما څخه مخکې په اورشليم کې هېچا نه درلودل. ۸ ما د خپل لاس لاندې سيمو څخه د ځان دپاره سره او سپين زر او د پاچاهانو شتمني راټوله کړه. ما ښځينه او نارينه سندرغاړي راټول کړل او خپل حرمسرای مې له ښايسته ښځو نه ډک کړ چې سړو يې د عيش او عشرت ارمان کاوه.

۹ نو زه دومره لوی او ځواکمن شوم چې زما څخه مخکې په اورشليم کې داسې ځواکمن سړی نه ؤ تېر شوی او ما خپل حکمت هم له لاسه ورنه کړ. ۱۰ ما د خپل زړه هر ارمان پوره کاوه. ما د هېڅ ډول عيش او عشرت نه ځان بې برخې نه کړ. زه د دې ټولو له زيار او زحمت نه ډکو کارونو څخه چې ما تر سره کړي وو، خوشحاله وم او دا خوشحالي زما د دې زحمتونو انعام ؤ. ۱۱ نو بيا مې په خپلو ټولو هغو کارونو چې ما کړي وو او ټولو هغو زحمتونو چې د هغو د تر لاسه کولو دپاره مې ويستلي وو، فکر وکړ. نو ومې ليدل چې دا هرڅه لوګی او پوکی، په باد پسې منډې وهل او د اسمان لاندې د هېڅ ګټې تر لاسه کول وو.

## د حکمت او حماقت څېړنه

۱۲ بيا ما پرېکړه وکړه چې په حکمت، جهالت او حماقت باندې غور او فکر وکړم. ځکه کوم کس چې له پاچا څخه وروسته راځي هغه نور څه کولای شي، پرته له هغه څه چې پخوا هم شوي وو؟
۱۳ نو ماته معلومه شوه چې

لکه څنګه چې په رڼا کې له تيارې نه ګټه ډېره ده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

همداسې په حکمت کې د حماقت نه ګټه ډېره ده

۱۴ هوښيار انسان په رڼا کې روان وي

خو کم عقل انسان په تياره کې روان وي

نو زه دې نتيجې ته ورسېدم چې د دواړو انجام يو دی. ۱۵ بيا مې له ځان سره ووېل: «هغه څه چې په کم عقل انسان باندې پېښېږي په ما به هم پېښ شي. بيا نو زه د حکمت په حاصلولو سره څه ګټه تر لاسه کوم؟» او بيا مې له ځان سره ووېل: «دا حالت هم لوګی او پوکی دی.» ۱۶ ځکه داسې وخت به راشي چې هوښيار انسان به هم د کم عقل انسان په شان تل په ياد پاتې نه شي او دواړه به هېر شي. افسوس چې هوښيار انسان به هم لکه د کم عقل انسان په شان مړ کيږي. ۱۷ نو بيا مې زړه له ژوند نه تور شو، ځکه هغه څه چې د اسمان لاندې تر سره کيږي زه يې ډېر په تکليف کړی وم. نو دا هرڅه لوګي او پوکي او په باد پسې منډې وهل دي.

## د زيار او زحمت نه ډک کارونه

۱۸ د هغو ټولو شيانو دپاره چې د هغو په خاطر مې د يو مزدور په څېر د اسمان لاندې زحمتونه ويستلي وو، زما سره کرکه پيدا شوه، ځکه چې دا هرڅه بايد هغه چا ته پرېږدم چې زما څخه وروسته راځي. ۱۹ څوک پوهېږي چې دغه کس به هوښيار وي يا احمق؟ خو بيا به هم هغه د ټولو هغو شيانو خاوند شي د کوم دپاره چې ما د اسمان لاندې زيار او زحمت ويستلی دی او له خپل حکمت نه مې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کار اخیستلی دی، ترڅو هغه تر لاسه کړم. نو دا حالت هم لوګی او پوکی دی. ۲۰ نو بیا ما په دې اړه فکر وکړ او زه د هغو ټولو له زیار او زحمت نه ډکو کارونو څخه ناهیلی شوم چې د اسمان لاندې مې ویستلي وو. ۲۱ دا ځکه چې یو انسان به په حکمت، پوهې او لیاقت سره زیار او زحمت وباسي او یو څه به حاصل کړي، خو وروسته به خپله برخه هغه چاته پرېږدي چې د هغو دپاره یې هېڅ زیار او زحمت نه دی ویستلی. نو دا حالت هم لوګی او پوکی او لویه بدبختي ده. ۲۲ نو انسان د دې ټولو زحمتونو او هلو ځلو څخه چې د یو مزدور په څېر یې د اسمان لاندې وباسي، څه تر لاسه کوي؟ ۲۳ هغه د دردونو نه ډکې ورځې تېروي او ټول کارونه یې سخت او له کړاوونو نه ډک دي. حتی د شپې له خوا به هم د هغه زړه ارامه نه وي. نو دا حالت هم لوګی او پوکی دی.

## د ژوند نه خوند اخیستل

۲۴ نو دا ټول نعمتونه چې انسان یې خوري او څښي او له خپل زیار او زحمت نه خوند اخلي، د هغه له خوا نه دي، بلکې لکه څنګه چې ماته معلومه شوه، د خدای له خوا دي. ۲۵ په حقیقت کې، هېڅوک زما په شان نه شي کولای چې څه وخوري او له خپل ژوند نه خوند واخلي. ۲۶ ځکه هرڅوک چې خدای راضي او خوشحاله کړي، نو خدای هم هغه ته پوهه، حکمت او خوشحالي ورکوي. خو ګناهکارانو ته د مال او دولت د راټولولو او ذخیره کولو سخت کار ور په برخه کوي او بیا یې ترې نه بېرته اخلي او هغه چا ته یې ورکوي چې خدای ترې راضي او خوشحاله وي. نو دا حالت هم لوګی او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوکی او په باد پسې منډې وهل دي.

## د هر شي دپاره ټاکلی وخت

٣ ١ په نړۍ کې د هر شي دپاره وخت ټاکل شوی دی
او هر مقصد په خپل موقع تر سره کيږي:

٢ د زيږيدلو دپاره وخت او د مړ کيدلو دپاره وخت
د تخم کرلو دپاره وخت او له بېخه ويستلو دپاره وخت

٣ د وژلو دپاره وخت او د روغولو دپاره وخت
د ورانولو دپاره وخت او د ودانولو دپاره وخت

٤ د ژړلو دپاره وخت او د خندلو دپاره وخت
د وير دپاره وخت او د ګډا دپاره وخت

٥ د کاڼو غورځولو دپاره وخت او د کاڼو ټولولو دپاره وخت
د غيږ ورکولو دپاره وخت او د غيږ نه ورکولو دپاره وخت

٦ د لاسته راوړلو دپاره وخت او د لاسه ورکولو دپاره وخت
د ځان سره ساتلو دپاره وخت او د ځان نه د جدا کولو دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخت

٧ د شلولو دپاره وخت او د ګنډلو دپاره وخت

د چوپېدلو دپاره وخت او د غږېدلو دپاره وخت

٨ د محبت دپاره وخت او د نفرت دپاره وخت

د جګړې دپاره وخت او د سولې دپاره وخت

٩ يو مزدور له خپل زيار او زحمت نه څه ګټه اخلي؟

١٠ ما د سختو کارونو درووند بار ليدلی چې خدای د انسانانو په
اوږو ايښی دی چې پرې بوخت وي. ١١ خدای هرڅه په خپل
وخت په سمه او مناسبه توګه ټاکلي دي. د دې تر څنګ هغه د انسان
په زړه کې د ابديت پېژندنې ته هم ځای ورکړی دی. خو بياهم انسان
دا وس نه لري چې د خدای په کارونو چې له ازله تر ابده پورې يې
تر سره کوي، پوه شي. ١٢ نو زه دې نتيجې ته ورسېدم چې انسان
بايد له دې نعمتونو څخه چې خدای ورته ورکړي دي تر هغې پورې
چې ژوندی دی، خوشحاله اوسي او ښه ژوند وکړي. ١٣ همدا شان
انسان بايد وخوري، وڅښي او د خپلو ټولو له زيار او زحمت نه ډکو
کارونو نه خوند واخلي، ځکه چې دا د خدای نعمتونه دي. ١٤ نو
زه دې نتيجې ته ورسېدم چې

هرڅه چې خدای تر سره کړي دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه تر ابده دوام مومي

نه په هغه کې څه زیاتېدلی شي

او نه هم څه کمېدلی شي

خدای دا ټول په دې خاطر کړي دي

چې خلک له هغه نه ووېرېږي

15 هرڅه چې اوس موجود دي

هغه پخوا هم موجود وو

او څه چې به وروسته موجود وي

هغه هم پخوا موجود وو

ځکه خدای غواړي چې پټ شیان بیا ښکاره شي

## له خاورو نه بېرته خاورو ته

16 نو همدا شان ما د اسمان لاندې دا هم ولیدل:

چېرته چې باید قضاوت وای هلته بدکاري وه

او چېرته چې باید انصاف وای هلته هم بدکاري وه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ له ځان سره مې وويل: «خدای به د نېکانو او بدکارانو په هکله قضاوت کوي. ځکه د هر مقصد او هر کار د قضاوت دپاره مناسب وخت ټاکل شوی دی.»

١٨ بیا مې له ځان سره وویل: «خدای د انسانانو ازمایښت کوي، ترڅو په خپله وګوري چې هغوی د ځناورو نه ښه والی نه لري.»
١٩ ځکه چې د انسانانو او د ځناورو پای یو دی. هغه څه چې په یو پېښېږي په بل هم پېښېږي. یعنې انسانان هم مري او ځناور هم مري. نو دواړه د ژوندون یو ډول ساه لري او انسان له ځناورو نه هېڅ ښه والی نه لري، نو دا هرڅه لوګي او پوکي دي.

٢٠ دواړه یو ځای ته ځي

دواړه له خاورو نه جوړ شوي دي

او دواړه بېرته خاورو ته ځي

٢١ څوک پوهېږي چې له مرګ څخه وروسته د انسانانو د ژوندون روح پورته او د ځناورو د ژوندون روح لاندې ځمکې ته ځي؟

٢٢ نو ماته معلومه شوه چې تر ټولو ښه به دا وي چې انسان په خپل کار کې خوشحاله اوسي، ځکه دا د هغه برخه ده. نو څوک کولای شي چې انسان ته وښايي چې د هغه راتلونکی به څه ډول وي؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۴

۱ یوځل بیا مې ټول هغه ظلمونه ولیدل چې د اسمان لاندې
تر سره کیږي.

ما اوښکې ولیدلې د مظلومانو

چې په ځمکه ځپېدلې

خو هېڅوک یې د تسلۍ دپاره نه ؤ

ظالمان وو ځواکمنان

وو بې وسه مظلومان

خو هېڅوک یې د تسلۍ دپاره نه ؤ

۲ نو ما هغه کسان نېکمرغه وګڼل چې مړه شوي او له دې نړۍ نه
تللي دي، نسبت له هغو خلکو نه چې ژوندي او تر اوسه په دې نړۍ
کې پاتې دي.
۳ خو له دې دواړو نه نېکمرغه هغه خلک دي چې
لا پیدا شوي نه دي، ځکه هغوی تر اوسه هغه ټول بد کارونه نه دي
لیدلي چې د اسمان لاندې تر سره کیږي.

۴ نو بیا ما ولیدل چې ټول زحمتونه او د کار مهارتونه له نورو
خلکو سره د سیالۍ په خاطر دي، چې دا سیالي هم لوګی او پوکی او
په باد پسې منډې وهل دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ کم عقل انسان لاس تر زنې وزګار کښېني

او له لوږې نه ځان وژني

۶ نيمه ډوډۍ چې په راحت تر لاسه کيږي

له هغې پوره ډوډۍ نه ښه ده

چې په زحمت او په باد پسې په منډې وهلو تر لاسه کيږي

۷ يوځل بيا مې د اسمان لاندې د لوګي او پوکي حالت وليد. ۸
يو سړی ؤ چې هېڅوک يې نه درلود. هغه نه زوی درلود او نه هم
ورور. هغه بې حده زيار او زحمت وويسته، خو بياهم سترګې يې په
مال او دولت نه مړېدلې. نو له همدې امله هغه به له ځانه دا پوښتنه
کوله چې د چا دپاره زه د يو مزدور په څېر زيار او زحمت وباسم او
له ژوند څخه خوند نه اخلم؟ نو دا حالت هم لوګی او پوکی او د
تکليف او سختۍ نه ډک دی.

۹ له يوه نه دوه تنه ښه دي

ځکه هغوی له خپل زيار او زحمت نه ښه اجوره اخلي

۱۰ که يو ولوېږي نو بل به هغه پورته کړي

خو افسوس د هغه چا په حال چې يوازې دی

ځکه کله چې ولوېږي نو څوک به نه وي چې يې پورته کړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ همدا شان که دوه تنه ښځنګ تر ښځنګ پراته وي

نو دواړه به تاوده وي

خو یو کس چې یوازې وي

نو څرنګه ځان تود ساتلی شي؟

١٢ که په یو کس حمله وشي نو ښايي ماتې وخوري

خو که دوه تنه ښځنګ تر ښځنګ ولاړ وي نو ښايي دوی مقاومت وکړي

که یوه رسی درې مزي ولري نو په اسانی سره نه شلیږي

## له لوړ مقام نه لوېدل او لوړ مقام ته رسېدل

١٣ یو غریب خو هوښیار ځوان له هغه سپین ږیري او کم عقل
پاچا نه ښه دی چې نه پوهیږي څرنګه د پخوا په شان د خلکو
مشورې واوري. ١٤ داسې ځوان که څه هم په زندان کې وي او یا
په هماغه پاچاهی کې غریب زیږېدلی وي نو کولای شي چې تر لوړ
مقامه ورسیږي. ١٥ ما په دې غور وکړ چې ښځنګه به د دې ځوان
په شاوخوا هغه ټول خلک چې د اسمان لاندې ژوند کوي، راټولیږي
څوک چې د هغه پاچا په ځای به وروسته لوړ مقام ته ورسیږي.
١٦ دغه ځوان حتی که په بې شمیره خلکو باندې مشري هم
وکړي، خو راتلونکي نسلونه به د هغه له کارونو څخه خوشحاله نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي. په حقيقت کې، دا حالت هم لوګی او پوکی او په باد پسې منډې
وهل دي.

## له خدای څخه ويره

**۵** ۱ کله چې د خدای کور ته ځې نو په خپلو قدمونو پام کوه.
هلته د اورېدو دپاره تلل، له هغه قرباني څخه ښه ده چې د کم عقلانو
له خوا وړاندې کيږي. ځکه هغوی په دې نه پوهيږي چې کوم کار
تر سره کوي، هغه بد دی. ۲ په خپلو خبرو کې بيړه مه کوه او د
خپل زړه خبرې پرته له غور څخه خدای ته مه بيانوه، ځکه خدای
اسمان کې دی او ته په ځمکه باندې يې. نو له همدې امله پرېږده
چې ستا خبرې لنډې وي.

۳ نو څومره چې ډېر پرېشانه خيالونه ولرې

هغومره خراب خوبونه ګورې

او څومره چې ډېرې خبرې کوې

هغومره خپل کم عقلتوب ښکاره کوې

۴ کله چې خدای ته يو نذر ومنې نو هغه بې له ځنډه ورکړه.
خدای له کم عقلانو نه خوشحاله نه دی. کوم نذر دې چې منلی دی
هغه ورکړه. ۵ دا ښه ده چې يو نذر ونه منې، له هغې نه چې ويې
منې خو ور يې نه کړې. ۶ مه پرېږده چې ستا د خولې خبرې تا د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګناه په لور يوسي او د کاهن په وړاندې مه وايه چې تا نه غلطي شوې ده، هسې نه چې خدای ستا په خبرو باندې په غوسه شي او په خپلو لاسونو تر سره شوي کارونه دې تباه کړي.

٧ په رښتيا چې کله خوبونه او خيالونه ډېر شي

نو د لوګي او پوکي په شان خبرې هم ډېرې شي

خو ته له خدای څخه وېره کوه.

٨ که چېرې ته په کوم ولايت کې ګورې چې په غريبانو باندې ظلم کيږي او انصاف او صداقت تر پښو لاندې کيږي، نو په دې خبره مه حيرانيږه. ځکه هر مامور د لوړ پوړي چارواکي له خوا څارل کيږي او حتی د هغه په سر هم لوړ پوړی چارواکی شته. ٩ نو د يو هېواد ګټه په دې کې ده چې پاچا په ټولو باندې واکمن وي او ټولې ځمکې وڅاري.

## تش لاس راتلل او تش لاس بېرته تلل

١٠ څوک چې له پيسو سره مينه لري

هغه به هېڅکله هم په پيسو موړ نه شي

او څوک چې په مال او دولت مين وي

هغه به په خپلو حاصلاتو موړ نه شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو دا حالت هم لوګی او پوکی دی.

۱۱ څومره چې نعمتونه زياتيږي

هغومره د هغه خوړونکي هم زياتيږي

نو پرته له تشو کتلو، د هغه د خاوند ګټه څه ده؟

۱۲ د يو مزدور خوب خوږ وي، که هغه ډېره خوري يا لږه

خو د شتمن سړي مړه ګېډه هغه خوب ته نه پرېږدي

۱۳ ما د اسمان لاندې بله لويه بدبختي هم وليدله. هغه دا وه چې
يو سړي د ځان دپاره شتمني ټولوله چې د هغه د تاوان سبب
ګرځېده، ۱۴ او وروسته بيا هغه دغه ټوله شتمني د بدې پېښې له
امله له لاسه ورکړه. که څه هم هغه يو زوی درلوده خو هغه يې تش
لاس پرېښود. ۱۵ نو دا سړی لکه څنګه چې د خپلې مور له ګېډې
څخه لوڅ او تش لاس نړۍ ته راغلی ؤ هماغسې به له دې نړۍ
څخه لوڅ او تش لاس بېرته ځي، او څه چې يې د خپل زيار او
زحمت له امله ټول کړي دي، هغه به له ځان سره نه وړي. ۱۶ دا
هم لويه بدبختي ده لکه څنګه چې نړۍ ته راغلی دی هماغسې له
نړۍ نه به بېرته ځي، او هغه ګټه چې په زيار او زحمت يې تر لاسه
کوي، هغه په باد پسې منډې وهل دي. ۱۷ بله دا چې هغه د خپل
ژوند ټولې ورځې په تيارې او ناروغۍ او په غوسه او غضب کې
تېروي او خپل ځان خوري.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ نو وګوره، ماته معلومه شوه چې ځومره سمه او مناسبه ده چې
انسان د خپل ژوند په لنډه موده کې چې خدای ورته ورکړې ده،
وخوري، وڅښي او د خپل زيار او زحمت نه چې د اسمان لاندې يې
وباسي، خوند واخلي ځکه چې دا د هغه برخه ده. ۱۹ همدا شان،
کله چې خدای هرچا ته مال او دولت ورکړي، او ورسره دا قدرت
هم ورکړي چې له هغه نه وخوري او خپله برخه تر لاسه کړي او د
خپل زيار او زحمت نه خوشحاله اوسي، نو دا د خدای له خوا يو
انعام دی. ۲۰ په حقيقت کې، هغه د خپل ژوند په ورځو باندې فکر
نه کوي ځکه خدای هغه په خوشحاليو کې دومره بوخت ساتي چې د
انديښنو دپاره وخت نه لري.

## د تېرېدونکي ژوند په اړه غوره نصيحتونه

۶ ۱ ما د اسمان لاندې بله بدبختي هم ليدلې ده چې د انسان په
اوږو يې دروند بار ايښی دی. ۲ يو سړي ته خدای مال، دولت او
عزت ورکړی دی ترڅو له ټولو هغو شيانو څخه بې برخې نه وي چې
زړه يې غواړي، خو خدای ورته دا قدرت نه دی ورکړی چې له هغو
څخه وخوري او د هغه په ځای يو پردی سړی له هغو څخه خوري
او ترې خوند اخلي. نو دا حالت لوګی او پوکی او لويه بدبختي ده.
۳ که چېرې يو سړی سل ماشومان ولري او حتی ډېر کلونه عمر
وکړي او د ژوند ورځې يې ډېرې زياتې وي، خو که هغه د خپل
ژوند له نعمتونو څخه خوشحاله نه وي او په عزت سره ښخ نه شي،
نو زه دا وايم چې هغه ماشوم ترې ښه دی چې مړ زېږېدلی وي. ۴
ځکه، مړ زېږېدلی ماشوم نړۍ ته د لوګي او پوکي په شان راځي، په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیارۍ کې ببرته ځي او په هماغه تیارۍ کې یې نوم فنا کیږي. ۵
همدا شان هغه ماشوم لا د لمر روښنایي هم لیدلی نه دی او نه هم
هغه پېژني، خو له هغه سړي نه زیات ارام دی. ۶ که هغه سړی
دوه وارې او هر وار زر کاله ژوند وکړي، خو که د خپل ژوند نه
خوند وانخلي نو څه ګټه لري؟ ایا په پای کې به دواړه یو ځای ته لاړ
نه شي؟

۷ د انسان ټول زحمتونه د ګېډې دپاره وي

خو د هغه ګېډه هېڅکله نه مړیږي

۸ په حقیقت کې، یو هوښیار سړی

له یو کم عقل نه څه لوړوالی لري؟

که غریب سړی پوه شي چې له خلکو سره ښه چلند وکړي

نو دا هغه ته څه ګټه لري؟

۹ هغه سترګې چې په قناعت مړې وي

له هغه ګېډې نه ښې دي چې تل وږې وي

نو دا حالت هم لوګی او پوکی او په باد پسې منډې وهل دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نامعلوم خو ټاکل شوی راتلونکی

۱۰ هرڅه چې اوس موجود دي

په هغو له پخوا نه نوم ایښودل شوی

او دا چې انسان څه دی هغه ټولو ته معلوم دی

نو هغه نه شي کولای هغه چاته په بحث کې ماتې ورکړي

چې ترې نه قوي دی

۱۱ ځکه څومره چې خبرې او بحثونه زیاتیږي

نو هغومره ډیر لوګي او پوکي پیدا کیږي

او دا انسان ته څه ګټه لري؟

۱۲ نو په حقیقت کې، څوک پوهیږي چې د انسان دپاره د هغه د ژوند په لنډه موده کې چې د لوګي او پوکي په شان دی او د سیوري په څیر تیریږي، څه شی ښه دی. څوک کولای شي هغه ته ووایي چې راتلونکی به د اسمان لاندې څه ډول وي؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ ۱ له قیمتي عطرو نه نېک نامي غوره ده

او د زېږېدو له ورځې نه د مړیني ورځ بهتره ده

۲ محفلونو ته له تګ نه

جنازو ته تګ غوره دی

ځکه د هر انسان د ژوند پای مرګ دی

او ژوندي خلک باید دا په زړه کې وساتي

۳ له خندا نه ژړا ښه ده

ځکه د مخ په خفګان سره زړه صفا کیږي

۴ د هوښیارانو زړه د جنازو په لور ځي

خو د کم عقلانو زړه د خوشحالیو په لور ځي

۵ ښه ده چې سړی د هوښیارانو د ملامتی خبرې واوري

له دې نه چې د کم عقلانو د خوشحالی سندرې واوري

۶ ځکه چې د کم عقلانو خندا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د اغزو د کړسهار په څېر دی

چې د دېګي لاندې سوځي

نو دا حالت هم لوګی او پوکی دی.

۷ په حقیقت کې ظلم له هوښيار سړي نه جاهل جوړوي

او رشوت د سړي زړه خرابوي

۸ د يو کار له پيل نه د هغه پای غوره دی

له غرور نه صبر غوره دی

۹ زر مه په غوسه کېږه

ځکه غوسه د کم عقل په زړه کې ځای نيسي

۱۰ داسې مه وايه:

«ولې پخوانې وختونه له اوسنې وختونو ښه وو؟»

ځکه داسې ويل د هوښياری خبره نه ده

۱۱ حکمت انسان ته چې د لمر د روښنايی لاندې اوسيږي

د يو ميراث په شان ښه او ګټور دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ځکه حکمت د انسان پر سر سیوری دی

لکه څنګه چې پیسې د هغه پر سر سیوری دی

خو د حکمت د پېژندلو ګټه دا ده

چې د خپل خاوند د ژوند ساتنه کوي

۱۳ د خدای کار ته په غور سره پام وکړه:

څوک هغه شی سمولی شي چې خدای کوږ کړی دی؟

۱۴ د نېکمرغۍ په وخت کې خوشحالي وکړه

خو د بدمرغۍ په وخت کې دې ته پام وکړه:

چې نېکمرغي او بدمرغي دواړه د خدای له خوا دي

ترڅو راتلونکي پېښې له انسان نه پټې وساتي

## د انساني حکمت او صداقت حدود

۱۵ ما دا دوه شیان د خپل لوګي او پوکي په شان ژوند په موده کې لیدلي دي:

هغه نېکان چې د خپل صداقت سره سره

بیاهم له وخت نه وړاندې مړه کیږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه بدکاران چې د خپل شرارت سره سره

بیاهم اوږد ژوند کوي

۱۶ نه ډېر نېک او صادق اوسه

او نه هم ځان ډېر پوه او هوښیار وښایه

هسې نه چې ځان برباد کړې

۱۷ نه ځان بدکارۍ ته تسلیم کړه

او نه هم احمق اوسه

هسې نه چې د خپل ټاکلي وخت نه وړاندې مړ شې

۱۸ ښومره ښه ده چې له هغو دواړو نه

یو خبرداری په پام کې ونیسې

خو هغه بل هم له پامه ونه غورځوې

ځکه ښوک چې له خدایه وېرېږي

نو هغه دواړه له پامه نه غورځوي

۱۹ حکمت یو پوه او هوښیار سړي ته د ښار له لسو مشرانو ښخه زیات واک او اختیار ورکوي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ په حقیقت کې، هېڅوک په نړۍ کې داسې صادق نه دی چې تل نېک کار وکړي او هېڅکله بدي ونه کړي.

۲۱ نو خلک چې څه وايي هغه په زړه کې مه نیسه، هسې نه چې ته د خپل غلام هغه ښکنځلې واورې چې تا پسې يې کوي، ۲۲ ځکه ته په خپل زړه کې ښه پوهېږې چې تا هم ډېر ځلې نورو ته ښکنځلې کړي دي.

۲۳ دا ټول شیان ما په خپل حکمت سره وازمایل. نو له ځان سره مې وویل: «راځه په دې شیانو باندې هم ځان پوه کړم،» خو دا زما له پوهې نه بهر ؤ. ۲۴ هرڅه چې اوس موجود دي هغه د انسان له پوهې نه بهر او د هغې پوهېدل ډېر ژور دی. انسان د ژوند دا پټ راز څنګه پیدا کولای شي؟

## د حکمت او د ژوند د پټ راز د پیدا کولو ستونزې

۲۵ نو بیا ما په دې اړه فکر وکړ ترڅو په هرڅه باندې ځان پوه کړم، هغه وڅېړم او حکمت او د ژوند پټ راز پیدا کړم. همدا شان ما دا هڅه هم وکړه چې په دې ځان پوه کړم چې بدکاري څومره کم عقلتوب او حماقت څومره جهالت دی. ۲۶ نو یو وار بیا پوه شوم چې هغه ښځه له مرګ څخه ډېره ترخه ده کومه چې د زړه نیت يې د ښکاري د دام او لاسونه يې د زندان د زنځیرونو په څېر دي. هرڅوک چې خدای راضي او خوشحاله کړي، نو له هغې څخه ځان ژغوري، خو ګناهکار د هغې په دام کې رانښلي. ۲۷ نو څېړونکي وویل: «وګوره، زه د ژوند د پټ راز د څېړنو په موده کې ورو ورو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې نتيجې ته ورسېدم، ۲۸ چې دغه پټ راز چې زما زړه په وار
وار غوښتل هغه پيدا کړي، تر اوسه نه دی پيدا شوی.

ما د زرو کسانو په منځ کې يوازې يو نېک سړی پيدا کړی دی

او د دې ټولو په منځ کې مې حتی يوه نېکه ښځه هم پيدا نه
کړه

۲۹ نو ما يوازې دا حقيقت پيدا کړ چې خدای انسان نېک پيدا کړی
دی خو هغه د ډېرو نورو نقشو په لټه کې دی.»

## ۸ ۱ د حکمت خاوند څوک دی؟

څوک د يو موضوع په ځرګندولو پوهيږي؟

د يو انسان حکمت د هغه څېره روښانوي

او د هغه سخت صورت نرموي

## د خدای د وېرې او د پاچا د اطاعت په اړه نصيحتونه

۲ زما نصيحت دا دی چې د پاچا د حکم څخه اطاعت وکړه،
ځکه خدای له هغه سره وعده کړې ده. ۳ نو د هغه د حضور
څخه په تللو کې بېړه مه کوه او د هغو خلکو سره مه يوځای کېږه
چې د هغه په ضد دسيسې جوړوي، ځکه پاچا هر هغه څه کولای
شي چې زړه يې وغواړي. ۴ په حقيقت کې، د پاچا حکم تر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هرڅه لوړ دی او هېڅوک هغه ته نه شي ویلی چې ته څه کوې؟ ۵ څوک چې د هغه حکم ومني نو هغه به په هېڅ یوه دسیسه کې برخه وانخلي، او هوښیار سړی په مناسب وخت او سم قضاوت باندې پوهېږي. ۶ که څه هم انسان ډېرې بدبختۍ ګالي خو د هر مقصد دپاره مناسب وخت او سم قضاوت ټاکل شوی دی.

۷ انسان نه پوهېږي چې راتلونکی به څه ډول وي، نو څوک کولای شي بل چا ته ووایي چې څه به پېښېږي؟

۸ لکه څنګه چې هېڅوک د ژوند د ساه د ساتلو اختیار نه لري

همدا شان هېڅوک د خپل مرګ د ورځې اختیار هم نه لري

لکه څنګه چې هېڅوک د جګړې په وخت د رخصتۍ اجازه نه لري

همدا شان هېڅوک په خپلو بدکاریو ځان نه شي ژغورلی

۹ کله چې ما په خپل زړه کې هر هغه څه ته چې د اسمان لاندې تر سره کېږي فکر وکړ، نو ومې لیدل چې کله کله یو انسان په بل انسان باندې واک او اختیار لري او هغه ته زیان رسوي.

۱۰ نو بیا ما ولیدل چې د بدکارانو مړي ښخ شوي وو. هماغه بدکاران چې سپېڅلي ځای ته تلل راتلل، په هغه ښار کې چې هغوی بد کارونه تر سره کړي وو، د خلکو له خوا ستایل کېدل. نو دا حالت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم لوګی او پوکی دی. ۱۱ کله چې بدکارانو ته د هغو د بدو کارونو
په خاطر سمدلاسه د سزا پرېکړه ونه شي، نو د انسانانو زړه د
بدکارۍ په لور هڅول کېږي. ۱۲ که څه هم یو ګناهکار بڼايي سل
واري بد کارونه وکړي او لا هم اوږد ژوند ولري، بیاهم زه پوهېږم
چې دا به له خدای څخه وېرېدونکو خلکو سره ښه په مخ ځي، ځکه
چې دوی له هغه څخه په وېره کې ژوند کوي. ۱۳ خو له بدکار
انسان سره به دا ښه په مخ نه ځي، او د هغه د ژوند ورځې به د
سیوري په څېر اوږدې نه وي، ځکه چې هغه له خدای څخه په وېره
کې ژوند نه کوي. ۱۴ دلته د لوګي او پوکي څخه ډک حالت د
ځمکې په مخ موجود دی:

ځینې نېکان هغه څه تر لاسه کوي
چې بدکاران د هغه مستحق دي
خو بیا ځینې بدکاران هغه څه تر لاسه کوي
چې نېکان د هغه مستحق دي

نو له ځان سره مې وویل: «دا حالت هم لوګی او پوکی دی.»

۱۵ نو زه له ژوند نه د خوند اخیستلو سپارښتنه کوم، ځکه چې د
اسمان لاندې له دې نه بل ښه کار نشته چې انسان وخوري، وڅښي
او خوشحاله اوسي. نو دا خوشحالي به د هغه د ژوند په موده کې او د
هغه په زیار او زحمت کې له هغه سره مل وي چې خدای هغه ته د
اسمان لاندې ورکړې ده.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خدای د کارونو پټ راز

١٦ کله چې ما د حکمت د پېژندلو هڅه وکړه ترڅو د ځمکې په مخ چې هر کار تر سره کیږي وڅېړم، که څه هم دا کار د یو کس د شپې یا د ورځې له خوب کولو څخه مخنیوی کوي، ١٧ نو بیا ما ټول هغه کارونه ولیدل چې خدای تر سره کړي وو. په حقیقت کې، هېڅوک دا پټ راز نه شي پیدا کولای چې د اسمان لاندې خدای کوم کارونه تر سره کړي دي. انسان د خپل ټول زیار او زحمت سره سره چې د هغه په لټولو کې یې وباسي، لا هم نه شي کولای دا راز پیدا کړي. حتی که یو پوه او هوښیار سړی دعوه وکړي چې زه د خدای په کارونو پوهېږم، خو په حقیقت کې، هغه به هېڅکله دا راز پیدا نه کړي.

## د انسانانو پای

٩ ١ نو ما په دې ټولو کارونو باندې فکر وکړ، ترڅو دا هرڅه وڅېړم. زه دې نتیجې ته ورسېدم چې نېکان او هوښیاران او د هغوی کارونه د خدای په لاس کې دي. دا چې له انسان سره مینه کیږي یا کرکه، خو هېڅوک په دې نه پوهیږي چې د انسان په راتلونکې کې به څه پېښیږي.

٢ څه چې په یو پېښیږي

هغه په بل هم پېښیږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو د ټولو پای یو دی

څوک چې نېک کاره وي

او څوک چې بدکاره وي

څوک چې پوره پاک وي

او څوک چې ناپاک وي

څوک چې قرباني ورکوي

او څوک چې قرباني نه ورکوي

څه چې له ښه سړي سره کیږي

هغه د ګناهکار سره هم کیږي

څه چې له قسم خوړونکي سره کیږي

هغه له قسم څخه وېرېدونکي سره هم کیږي

٣ دا بله بدبختي ده چې د اسمان لاندې په هر شي باندې
پېښیږي، چې د ټولو پای یو دی. همدا شان د انسانانو زړونه له
شرارت نه ډک دي، او ترڅو چې ژوندي دي په زړونو کې یې
جهالت وي، بیا دوی له مړو سره یوځای کیږي. ۴ په یقین سره
څوک چې د ژوندیو په منځ کې دی هغه په دې تمه دی چې له مړ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمري نه ژوندی سپی ښه دی. ۵ ځکه ژوندي په دې پوهيږي
چې دوی به مړه شي، خو مړي په دې هيڅ نه پوهيږي.

مړي نور هيڅ اجوره نه لري

او حتی د هغوی ياد له منځه ځي

۶ هغه څه چې هغوی ورسره مينه لرله

او له هغه څه نه چې هغوی ترې کرکه کوله

او له هغه چا سره چې هغوی سيالي درلوده

هغه پخوا له منځه تللي دي

او دوی نور هيڅکله په هغه څه کې برخه نه لري

چې د اسمان لاندې تر سره کيږي

۷ نو ځه او خپل خواړه په خوښۍ سره وخوره، او خپل شراب په
خوشحاله زړه وڅښه، ځکه چې خدای لا پخوا ستا له دې کارونو
څخه راضي او خوشحاله دی. ۸ ستا جامې دې د ښاديو دپاره تل
سپينې وي او خپل سر په قيمتي تېلو غوړوه. ۹ د خپل لوګي او
پوکي په شان ژوند په موده کې له خپلې ګرانې ښځې سره د ژوند نه
خوند واخله. دا خدای دی چې دا د لوګي او پوکي په څېر ورځې يې
تاته د اسمان لاندې درکړې دي. ځکه چې دا خوشحالي ستا د ژوند
او د هغه زيار او زحمت برخه ده چې د يو مزدور په څېر يې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اسمان لاندې وباسي. ۱۰ هر هغه څه چې ته په خپلو لاسونو
تر سره کوې هغه په خپل ټول قوت سره تر سره کړه، ځکه چې په
قبر کې نه کار شته، نه نقشه شته او نه هم پوهه او حکمت شته، هغه
ځای چې ته به په پای کې ورته ورځې.

## وخت او بخت

۱۱ یوځل بیا ما د اسمان لاندې ولیدل:

منزل ته زر رسېدل تل د تېزو منډې وهونکو په برخه نه وي

د جګړې ګټل تل د قوي جنګیالیو په برخه نه وي

د ژوند د وسیلو تر لاسه کول هم تل د هوښیارانو په برخه نه وي

د شتمنۍ ګټل هم تل د عقلمندو په برخه نه وي

او نه هم برى تل د پوهانو په برخه وي

ځکه وخت او بخت به د دې هر یو انجام وي

۱۲ دا هم حقیقت لري چې هېڅوک له دغه ټاکل شوي وخت څخه
خبر نه دی!

لکه ماهي چې په جال کې ونیول شي

یا مرغۍ چې په لومه کې راونیول شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو انسانان به هم همداسې په دام کې راګير شي

او بدبختي به ناڅاپه په هغوی باندې نازله شي

١٣ ما د اسمان لاندې د حکمت په اړه دا هم ليدلي دي چې په ما
باندې يې ډېره اغېزه کړې ده. ١۴ يو کوچنی ښار ؤ چې يو څو
سړي په کې اوسېدل، او يو قوي پاچا پرې بريد وکړ، هغه يې کلابند
کړ او لښکر يې د هغه ښار د دېوالونو د ماتولو دپاره قوي وسيلې
جوړې کړې. ١۵ خو په هغه ښار کې يو غريب خو هوښيار سړی
پيدا شو چې په خپل حکمت سره يې هغه ښار وژغوره. خو هغه
غريب سړی هم د خلکو له خوا هېر شو. ١۶ نو زه دې نتيجې ته
ورسېدم چې

له قوت نه حکمت ښه دی

خو د غريب سړي حکمت ته په سپکه سترګه کتل کېږي

او هېڅکله د هغه مشورو ته غوږ نه نيول کېږي

## له حماقت څخه د حکمت لوړوالی

١٧ د هوښيارانو نرمې خبرې

د حاکم له هغو چيغو نه زر اورېدل کېږي

چې د احمقانو په منځ کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په لوړ اواز ویل کیږي

۱۸ له جنګي وسلو نه حکمت ښه دی

خو یو ګناهکار ډېر څه له منځه وړي چې هغه ښه دي

# ۱۰

۱ لکه څنګه چې مړه مچان د خوشبویه عطرو بوی خرابوي

همدا شان لږ حماقت هم حکمت او شوکت ته زیان رسوي

۲ د هوښیار سړي زړه هغه د سمې لارې په لور بیایي

خو د کم عقل سړي زړه هغه د ګمراهۍ په لور بیایي

۳ یو احمق انسان حتی که په لاره هم روان وي، خو ناپوهه وي

او هغه خپل حماقت هرچا ته ښکاره کوي

۴ که حاکم درباندې په قهر شي نو خپل مقام مه پرېږده

ځکه چې د لویې خطا په وخت کې نرمه ژبه قهر سړوي

۵ ما د اسمان لاندې بله بدبختي هم ولیدله. په حقیقت کې، د واکدار له خوا دا غلطي کیږي چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٦ احمق سړي لوړو مقامونو ته پورته کيږي

خو شتمن سړي په ټيټو مقامونو کې پاتې کيږي

٧ ما ليدلي چې

غلامان په اسونو باندې ناست دي

خو شهزادګان د غلامانو په شان

په پښو باندې روان دي

٨ څوک چې کنده کيندي نو ښايي په خپله په کې ولويږي

او څوک چې دېوال ورانوي نو ښايي مار هغه وچيچي

٩ څوک چې له کان نه تيږې راوباسي نو ښايي خپل ځان ټپي
کړي

او څوک چې لرګي ماتوي نو ښايي خپل ځان ژوبل کړي

١٠ که تبر پڅ وي او مزدور هغه تيره نه کړي

نو د هغه کارول ډېر زور غواړي

خو په حکمت کې ګټه دا وي

چې برياليتوب منځ ته راوړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ که مار مخکې له منتر ويلو څخه سړی وچيچي

نو د مارګير په منتر ويلو کې ګټه څه وي؟

١٢ هوښيار سړي ته د خپلې خولې په خبرو عزت ورکول کيږي

خو د کم عقل د خولې خبرې د هغه د تباهۍ سبب کيږي

١٣ د هغه خوله په حماقت سره خلاصيږي

او د خولې خبرې يې په شرارت او جهالت سره ختميږي

١٤ احمق سړی ډير غږيږي

خو انسان نه پوهيږي چې راتلونکی به څه ډول وي

او څوک هغه ته ويلی شي چې څه به پېښيږي؟

١٥ په زيار او زحمت سره کم عقل سړی ستړی ستومانه کيږي

او هغه نه پوهيږي چې په کومه لاره ښار ته رسيږي

١٦ افسوس دې وي په تا ای وطنه

کله چې ستا پاچا يو بې تجربه او کم عقل ځوان وي

او ستا شهزادګان په سهار کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په ډېر خوراک او نشو کې ډوب وي!

۱۷ بختور يې ای وطنه

کله چې ستا پاچا د يو باعزته کورنۍ زوی وي

او ستا شهزادګان د خپل طاقت په خاطر

په مناسب وخت کې وخوري

او له نشو او مستيو نه

خپل ځانونه لېرې وساتي

۱۸ د لټۍ له امله د کور چت سوری کيږي

او د بېکاره لاسونو له امله بام څخيږي

۱۹ خواړه د خندا او خوند دپاره وي

او شراب ژوند ته خوشحالي راولي

خو پيسې د دواړو دپاره وي

۲۰ په خپل زړه کې هم پاچا ته ښکنځلې مه کوه

حتی په خپله کوټه کې هم يو شتمن پسې لعنت مه وايه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېدای شي د هوا مرغۍ ستا خبرې هغوی ته ورسوي

یا وزر لرونکی مرغه دا الفاظ تکرار کړي

## د انساني پوهې حدود

# ۱۱

۱ خپلې داني په لمده ځمکه کې وشینده

ځکه څو ورځې وروسته به ته هغه بېرته حاصل کړې

۲ د خپلو دانو یوه برخه له اوو اتو کسانو سره شریکې کړه

ځکه ته نه پوهېږې چې په ځمکه باندې به څه افت راځي

۳ که ورېځې نمجنې او درندې شي

نو په ځمکه باندې باران ورېږي

او که ونه جنوب یا شمال لوري ته چپه شي

نو په هماغه ځای به پرته وي چې پرې رالوېږي

۴ څوک چې د باد لوري ته ګوري هغه بیا څه نه کري

او څوک چې ورېځو ته ګوري هغه بیا حاصل نه رېبي

۵ لکه څنګه چې ته نه پوهېږې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې باد له کوم ځایه لګیږي

یا د امیدوارۍ ښځې په ګېډه کې

ماشوم څرنګه لوییږي

نو همدا شان ته د خدای په کارونو هم نه پوهېږې

چې دا دواړه د هغه له خوا تر سره کیږي

٦ په سهار کې خپل تخم وکره

او په ماښام کې هم لاس تر زنې مه کښېنه

ځکه ته نه پوهېږې چې په کوم کار کې بریالیتوب شته

په دې کار کې یا په هغه بل کار کې

یا په دواړو کې په برابره توګه بریالیتوب شته

## ځوانانو ته نصیحت

## په ځلمیتوب کې له خپل ژوند نه خوند واخله

٧ نو د لمر روښنایي ښومره خوږه ده او د انسان دپاره ښومره ښه
ده چې د لمر د روښنایی لاندې واوسیږي. ٨ په حقیقت کې، یو
سړی چې ډېر کلونه عمر کوي هغه باید خوشحالي وکړي او له خپل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوند نه خوند واخلي، خو هغه باید په یاد ولري چې د تیارې ورځې
ډېرې زیاتې وي. نو هرڅه چې په راتلونکې کې پېښېږي هغه ټول
لوګي او پوکي دي.

۹ نو ای ځوانه! د ځوانۍ په ورځو کې خوشحالي وکړه او د خپل
ځلمیتوب له هرې شېبې نه یې خوند واخله. چېرته چې ستا زړه ځي
او سترګې دې ګوري هلته دې ستا پښې هم لاړې شي. خو په دې
پوه شه چې خدای به ستا د زړه د ارمانونو او عملونو قضاوت وکړي.
۱۰ له خپل زړه څخه غم او غوسه لېرې کړه او له خپل بدن څخه
درد او کړاو وباسه، ځکه چې ځواني او د ځلمیتوب سباوون لوګی او
پوکی دی.

## خپل خالق په یاد لره

۱۲ ۱ مخکې له دې چې دربانديې سختې ورځې راشي

او هغه کلونه راشي چې ته ووایې:

«نور زما د ژوند خوند نشته»

نو د ځوانۍ په ورځو کې خپل خالق په یاد لره

۲ مخکې له دې چې د لمر رڼا کمه شي

او د سپوږمۍ او ستورو روښنايي لاړه شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د باران د ورېدو نه وروسته

توري ورېځې بېرته په اسمان کې راښکاره شي

نو خپل خالق په ياد لره

۳ مخکې له دې چې د کور ساتونکي په لړزېدو شي

او د قوي سړيو ملاګانې کړوپې شي

کله چې ميچن کوونکې ښځې کمې او کار يې بند شي

او د مېرمنو په سترګو چې له کړکيو لاندې ګوري، پرده
راښکته شي

۴ او د کوڅو دروازې بندې شي

کله چې د ميچن کړسهار ټيټ او چوپ شي

او د مرغيو په سهارنۍ نغمو باندې انسان له خوبه راويښ شي

او بيا ټول غړونه هغه ته ټيټ او بند شي

نو خپل خالق په ياد لره

۵ بله دا چې انسان ته له لوړ ځايه د لوېدو وېره پيدا شي

يا په لارو کوڅو کې ورته د خطرونو انديښنه پيدا شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د بادام ونه غوټۍ ونيسي او ګلان په کې ښکاره شي

يا ملخ په ځمکه ستومانه په ښنبېدلو شي

يا په انسان کې د شهوت شوق ختم شي

نو خپل خالق په ياد لره

ځکه انسان ګور يعنې خپل تلپاتې کور ته ځي

او ماتم کوونکي په کوڅه کې

له هغه نه شاوخوا تاوېږي راتاوېږي

٦ مخکې له دې چې د سپينو زرو زنځير وشلېږي

يا د سرو زرو کاسه کړوپه شي

يا د اوبو منګی د چينې تر څنګ مات شي

يا د څاه څرخ ټوټې ټوټې شي

نو خپل خالق په ياد لره

٧ مخکې له دې چې انسان بېرته خاورو ته لاړ شي

له کومې څخه چې جوړ شوی ؤ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د ژوندون روح يې بېرته خدای ته لاړ شي

چې هغه يې د هغه په پوزه کې پو کړی ؤ

نو خپل خالق په ياد لره

٨ دا ښېرونکی وايي:

«لوګی او پوکی!

نو دا هرڅه لوګي او پوکي دي!»

## وروستی خبرې

### د يو ښپون زده کړې

٩ نو بله خبره دا ده، چې دا ښېرونکی ډېر پوه ؤ او په هرڅه چې پوهېده، نورو خلکو ته يې ورزده کړل. هغه ډېر متلونه وڅېړل، په هغو باندې يې غور او فکر وکړ او هغه يې راټول کړل. ١٠ دې ښېرونکي هڅه وکړه چې خواږه الفاظ پيدا کړي او په ربښتيني توګه خپل د حقيقت خبرې پرې وليکي.

١١ د هوښيارانو خبرې

لکه د ښپنو د لښتو په شان دردناکه دي

او د اديبانو د متلونو ټولګې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د تېرو مېخونو په شان ګټورې دي

نو دا شیان یو شپون

خپلې رمې ته ورزده کوي.

## له خدای څخه وېره او د انسان قضاوت

١٢ نو ای زما زویه! دې نورو خبرو ته مې هم پام وکړه. د کتابونو
لیکل به هېڅکله ختم نه شي او په ډېرو لوستلو او زده کولو سره
سړی ستړی ستومانه کېږي.

١٣ خبرې ختمې شوې او هرڅه واورېدل شول. نو له خدای څخه
وېره کوه او د هغه له حکمونو څخه اطاعت کوه، ځکه چې دا د هر
انسان دنده ده. ١۴ نو خدای به د هر هغه کار په اړه قضاوت وکړي
چې انسان یې تر سره کوي چې د زړه پټ رازونه هم په کې شامل
دي، که هغه ښه وي او که بد.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ٢٠٢١
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.